# دافغانستان په ټولو تروريستی پيښنو کی دپاکستان لاس دی

استاد رباني تېره ورځ د وزيرمحمداکبرخان په غونډئ کې خاورو ته وسپارل شو او د فاتحي مراسم په کابل کې د ارګ ، وزير محمداکبرخان ، شيرپور ، عيدګاه او په ځينو نورو جوماتونو کې ترسره شول ،په دې مراسمو کې ولسمشر حامد کرزي، جهادي شخصيتونو، دولتي چارواکيو، د يو شمېر هېوادونو سفيرانو او چارواکيو او نورو زرګونو تنو ونډه لرله ،دفاتحی په دغو مراسمو کی د شخړو د حل او له دولت سره د خلکو د اړيکو د کمېسيون مشر **حضرت صبغت الله مجددي** ، د جمهوري رياست د ارګ په جومات کې، چې ولسمشر هم په کې ونډه لرله ،لنډې خبرې وکړې ،حضرت صاحب مجددی په خپلو خبرو کی يو ځل بياهم په داګه وويل چی په دغو وژنو کی دپاکستان لاس دی ،ديو ځل بياهم دپاکستان استخباراتی اداره (آی،ايس،آی ) په افغانستان کی به پراخو لاسوهنو تورنه کړه ،خو حضرت صاحب وويل چې ياده استخباراتي شبکه نه شي کولای په افغانستان کې د لاسوهنو له لارې افغانان له خپلې ارادې وګرځوي ،نوموړی دپاکستان داستخباراتی شبکی پروړاندی دجدی اقداماتو غو ښتنه وکړه ،او په خپلو څرګندونو کی يی وويل که جهانی ټولنه غواړی چی په افغانستان او منطقه کی سوله تامين شي نوبايد دپاکستان د آی،ايس،آی پر ضد پراخ اقدامات وکړی که چيری امريکا او ځينی نور هيوادونه د اي،ايس،آی پر وړاندی اقدام نه شی کولای په هغه صورت کی دی لکه څرنګه چی دجهاد په دوران کی دشوروی پرضد زمونږ سره دوسلو کمک وکړی اوس دی دپاکستان په مقابل کی زمونږ ننګه وکړي.

تر دی يوه ورځ وړاندی دبرهان الدين ربانی دجنازی په مراسموکی په زرهاو خلکو ګډون کړی وو دجنازو دمراسمو په جريان کی کې يو شمير قهرجنو کسانو د امريکا، پاکستان او د افغانستان د جمهور رئيس حامد کرزي په خلاف شعارونه ورکړل. د ښاغلي رباني ملاتړ کوونکو د افغانستان امنيتي ځواکونه په ډېرو وويشتل چې په يوه مرحله کې پوليس مجبوره سوله چې د دغو کسانو د ګډوډولو لپاره هوايي ډزې وکړې ،د جنازې په مراسمو کې چې کله امرالله صالح، د استخباراتو پخوانی مشر او د رباني د ملګرو نه و وغوښتل چې د خلکو سره يو ځای سي امنيتی ساتونکو ودروی نو صالح په قهرجنه اواز وويل :يو تروريست ته اجازه ورکړل سول چې دننه ولاړ سي او زموږ مشر ووژني، خو اوس موږ ته اجازه نه راکول کيږي چې د ښخولو په مراسمو کې يې ګډون وکړو،هغه وويل چې لارو کوڅو ته به راووځي او دولت ته به ووايي چې د دی حق نه لري چې دهغه په قول د دوښمنانو سره .نوري خبري وکړي. د هغه مطلب د مخالفينو سره د پخلاينی خبري وي

دبله لوری د پاکستان او د متحده ايالتونو تر منځ په تيرو اونيو کي اړيکي ډيري ترينګلي سوي دي. د امريکا د لوی درستيز په مستقيمه توګه آی ايس آی د امريکا او افغانستان پر ضد په جګړه تورنه کړی ده. او له دی سره سم اوس د کابل او د ممبئ د بريدونو د تړاو خبره راپورته سوې ده ،د سپټامبر ديارلسمه د کابل په وزير اکبرخان سيمه کي چيري چي د امريکا سفارت هم واقع دی وسله وال بريدونه تر سره سول. يو شمېر وسله والو تر شلو ساعتو پوري د يوې لوړې وانۍ څخه د امريکا پر سفارت او يو شمېر نورو مهمه دفترونو

بریدونه وکړل ،په کابل کي د امریکا سفیر د دغو بریدونو وروسته سمدلاسه وویل چي د
دغو بریدونو تر شا د حقاني د ډلې لاس دی. د نوموړي د خبرو وروسته د امریکا د دفاعي
چارو وزیر پنېټا هم و حقاني ډلې ته ګوته ونیوله او پر پاکستان یې ږغ وکړی چي د دغي
ډلي په وړاندي دي عملیات پېل کړي ،د امریکا د ټولو قواوو لوی درستیز جنرال مایک
مولن د پنجشنبې په ورځ د پاکستان د استخباراتو اداره تورنه کړه چي په هغو شخړو کې
لاس لري چي په افغانستان کې د امریکا ګټو ته زیان اړوي ، مایک مولن د پنجشنبې په
ورځ په واشنګتن کې د امریکا د مشرانو جرګې پوځي کمیټې ته وویل چي د حقاني شبکه د
ای ایس ای متې ده. نوموړي زیاته کړه چي تیره اونۍ چي کله په کابل کې د امریکا پر
سفارت برید وشو ای ایس ای اې یې تر شا و. مولن وایي چي د جون په اته ویشتمه چي د
کابل پر کانټیننټل برید شوه په هغه کې هم ای ایس ای لاس درلود .
د پاکستان د پوځ لوی درستیز جنرال اشفاق کیاني د حقاني شبکې د ملاتړ په اړه د امریکایي
چارواکو څرګندونې په ضمني ډول تایید کړې خو په عین حال کې یې وویل چي د امریکا
لوی درستیز جنرال مایک مولن ښه پوهېږي چي کوم هیوادونه د حقاني شبکې ملاتړ کوي
،د جنرال کیاني له څرګندونو داسي ښکاري چي د حقاني شبکې ملاتړ یوازې پاکستان نه
بلکې نور هیوادونه هم کوي ،چي تر ډیره حده ممکن دنوموړی هدف ایران،چین او هم
روسیه وی چي پاکستان یی دخپل ځان متحدین دامریکا پرضد ګڼي ،تر دې مخکې د پاکستان
د بهرنیو چارو وزیرې حنا رباني کهر له ترهګرو ډلو سره د پاکستان د ملاتړ په باب د
امریکایي چارواکو څرګندونې په مطلق ډول رد کړې وې ،هغې ټېکه کړې وه چي که پر
پاکستان د متحدانو دا ډول نیوکو دوام وکړ نو هغوی دې د پاکستان له ایتلافه لاس واخلي ،
په را پورونو کی ویل کېږي چي رباني کهر د پاکستان د استخباراتو په خوښه د وزارت
چوکۍ ته رسول شوې ده تر څو د پاکستان په بهرنۍ پالیسۍ کې د پوځ د دریځ ترجماني
وکړي
له اوږدو معاملو او همکارۍ وروسته داسې ښکاري چي د پاکستان او امریکا همکاري په
عملي سیالۍ اوړي. دا اوښتون دوه بنسټیز لاملونه لري چي یو یې له امریکا سره د پاکستان
دوه مخي چلند او بل هغه ګواښ دی چي پاکستان یې په سیمه کې د امریکایي ځواکونو د
شتون له امله احساسوي. امریکا اوس پوره باوري شوې چي پاکستان د دوی له مخالفینو سره
مرسته کوي او په افغانستان کې ددوی پر وړاندې جګړه ګرمه ساتي، نو له دې امله باید
ورسره جدي چلند وشي، آن کې دا چلند د پوځي عملیاتو تر پولې هم ورسیږي، خو پاکستان
هم اوس فکر کوي چې په سیمه کې د امریکایي ځواکونو یو اصلي هدف پاکستان دی، نو
ځکه اوس هر هغه څه ته لاس اچوي چي ددې ګواښ مخنیوی کولای شي. د طالبانو لا زیات
ملاتړ او په سیمه کې له ایران، چین، روسیې او نورر هېوادونو سره د یو اېتلاف رامنځ ته
کول هغه چارې دي چي پاکستان یې د امریکا پر ضد ترسره کولای شي ،اوس دا سیالي د
عمل او غبرګون په حالت کې ده، امریکا عمل کوي، پاکستان غبرګون ښیي او یا هم پاکستان
عمل کوي، امریکا غبرګون ښیي. د رپوټونو له مخې امریکا په قطر کې طالبانو ته د
پاکستان د خوښې خلاف د دفتر د پرانیستې سره موافقه کړې، پاکستان د حقاني شبکې پر متې
په کابل کې بریدونه وکړل، امریکا مخامخ ددې بریدونو پړه پر حقاني شبکې ور واچوله او

ددې ډلې پر وړاندې د پاکستان له خوا د عملياتو د نه ترسره کولو پر مهال يې له خپله اړخه د عملياتو ګواښ وکړ. دا لړۍ به دوام کوي.څه چې د اندېښنې وړ دي هغه دا چې د تېر په څېر يو ځل بيا زموږ هېواد ددې سيالۍ ډګر دی او د امريکا او پاکستان ترمنځ په بل شوي اور کې موږ سوځېږو، د کابل په وروستيو بريدونو کې يوازې ٦ بهرنيان ټپيان شول، خو نور ټول وژل شوي او ټپيان شوي افغانان دي.موږ د نورو پټو سياليو ترڅنګ اوس په ښکاره د پاکستان او امريکا د سيالۍ قرباني يو او هره ورځ له دې امله قرباني ورکوو، نو په کار ده چې زموږ حکومت دا مسئله درک کړي، داسې لارې چارې وکاروي چې په افغانستان کې ددې سيالۍ مخنيوی وکړي او زموږ خلک هم بايد په دې لوبه پوه شي او خپل ځانونه د پردۍ لوبې غازيان او شهيدان نه کړي،دحضرت صاحب مجددی دخبری په تائيد او ملا تړ تر ځو چی دپاکستان د آی،ايس،آی د فو ځی اداری پر وړاندی پراخ اقدامات تر سره نه شی په افغانستان او منطقه کی سوله نا شونی ده.پای سلام خان

.